سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۸/۲٦

# ولـی ولـی؟

وړوکی ښکلی وی، چی لوی شوی نو بدرنګ ولی شوی؟
تا خو بی نیازه پاچاهی کړه، اوس ملنګ ولی شوی؟

تا خــو ویل چــی غرونه غرونه، حوصـله لرمه!
د حوصـلی په آزمـوینه کی، زړه تنګ ولی شوی؟

ماته خـو داسی ښکاریده، چی ته یی شـپون د رمي
خپلی رمــي تــه نیـمه لاره کی، پلنګ ولی شوی؟

تــه خــو په سمه لار روان وی، دا څه پیښه وشوه
سر په ځنګلونو، په کمرونو، په کړنګ ولی شوی؟

آینــه دی لاس کی ده خو، مخ دی پکی نشی لیدای
دی ته حیران یم چی، په ځان پوری دی تنګ ولی شوی؟

چا منـحـرف کړی مسـافره! د تلو سمی لار نه
سپینی جامي دی د خپل ورور، په وینو رنګ ولی شوی؟

ښکاری خوږلی دی، په دروِغو وو قسم کعبه کی

که داسی نه وی، نو با ننګ اشنا! بی ننګ ولی شـوی؟

دزمـانــی له قضـاوت ځان، خلاصوی به څنګه

چی بی دلیل خپل کلیوال سره په جنګ ولی شوی؟

اګست/۲۲/۲۰۱

ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

ولی ولی؟

kliwal_s_٤٥_waley_waley.pdf